




ايمل « مړوند »
د نشر نیټه : ۲۵ نوامبر ۲۰۱۲ میلادی

# د ختيځ ادبي بهير د ۱۹ مې اونيزې ناستې راپور





ختيځ ادبي بهير خپله ۱۹ مه اونيزه غونډه د ۱۳۹۱ کال د ليندۍ پر ۳ يمه نيټه دجلال اباد ښار د ميديوتيک په انګړ کې ترسره کړه.

غونډه د محمود خزان لخوا د قران پاک د ځو مبارکو اياتو پرتلاوت پيل شوه او د ويندويۍ چارې يې عرفان الله بيدار مخکې وړلې په پيل کې بهيروالو د قاري عبدالله سهار د خوابښې او ډاکټر عظم عظم د مړينې له امله د هغوی ارواحو ته د دوعا لاسونه لپه کړل.
دا اونۍ د غونډې مشرې قاري عبدالله سهار کوله، ميلمه يې خيبر احمد روښان و اود کوربه په توګه ورسره محمود خزان کېناستو د تيرې غونډې د ګزارش لوستلو لپاره ايمل مړوند دريځ ته وبلل شو او برخوال يې د تيرې ناستې له حاله خبر کړل
پر ګزارش د خبرو پيل عبدالله سهار وکړ او د مړوند د ګزارش ليکنې ستاينه يې وکړه.نوموړي زياته کړه چې بهير د ګزارش په برخه کې ډېر ښه روان دي. سهار ټينګار وکړ چې په غونډه کې دې د کرکتنې پرمهال ډېر پام وشي او سالمې کرکتنې ته دې وخت ورکړل شي.
نقيب احمد اتل هم د سهار سره همغږی و، نوموړي په ټوله کې ګزارش خوښ کړ او په سالمه کرکتنه يې ټينګار کولو.






شکرالله قلندري په ګزارش کې د بهیروالو د نومونو د نه لیکلو خبره یاده کړه نوموړي په ګزارش کې د ګډون کونکو نومونه لیکل ضروري وبلل او دا یې د ځوانانو د تشویق لپاره یو ښه ګام یاد کړ .
د قلندري سربېره نورو ګڼو بهیروالو هم په ګزارش کې د برخوالو د نومونو پر لیکلو ټینګار کولو .
ګزارش ملګرو خوښ کړ او د توکو د ارزونې په لړ کې د ژمنې سره سم صاحب الله عابد خپله لنډه کیسه د پیریانی تر سرلیک لاندې کرکتنې ته وړاندې کړه.
د نقد پیل پرې انعام الحق احسان وکړ وې ویل: د لیکنې په یوځای کې راغلي: (څه ورکه شه په تاکې څه ورکه شه تاسره پیریان ) پیریان دي) نوموړي په باور که ددې پرځای داسې ولیکل شي، چې دی) ښه به راشي.
ځینو نورو ملګرو هم د احسان سره همغږي وښودله او په ( تاکې یې) د ( تاسره کلیمه سمه وبلله همت مل په ټوله کې کیسه خوښه کړه، خو ځینې پروفي تېروتنو ته یې ګوته ونیوله.
ځینې نورو بهیروالو هم په لیکنه کې لیکنیو تېروتنو ته ګوته نیوله چې پام ورته نه دی شوی.
د انجینر زیارمل سوکال بیا د لیکنې په کیسه ایز اړخ خبرې وکړې، په خبره یې د پیغام له مخې ډېر ښه ده، خو د کیسې توکې پکې نشته دی.

بازمحمد عابد بیا د لیکنې د پیغام په اړه وګړیدو، نوموړي وویل: په لیکنه کې ټولنې ته ډېر لوړ پیغام وړاندې شوې دی د عابد په وینا عابد کمال کړی او لیکنه یې داسې کړې، چې موږ ټول یې خپل ماشوتوب ته یوړو.
عابد د عابد لیکنه خوښه کړه. زیاته یې کړه کیسه نه ده، خو ډېر لوړ او قوی نثر یې لیکلی، چې له ځان سره لوړ پیغام لیږدوي .







هره لیکنه د لیکوال خپل نظر دی او خپله دلیکوال اند څرګندوی

عابدوړاندې وویل: صاحب الله عابد کولی شول، چې په ډېره لږه خوارۍ یې له همدې لیکنې یوه ښه کیسه جوړه کړې وه، خو په وینا تر کیسې همداسې ښه لیکل شوې او ټولنې ته ډېر څه ورکولی شي .
نقیب احمد اتل هم د باز عابد سره په یوه خوله و او لیکنه یې یوه ښه نثري ټوټه یاده کړه. نوموړي په لیکنه کې ځینې املایي او لیکنیو تیروتنو ته ګوته نیوله او تینګار یې کولو، چې نوي او ځوان لیکوال باید په لیکنۍ برخه کې ډېره زیاته توجه وکړي او دې برخې ته ډېر پام وکړي.
اتل د لیکنۍ نښې د یوې سمې لیکنې لپاره ډېرې اړینې وبللې او ورته په پام کولو یې ټینګار وکړ.
شکرالله قلندرې په لیکنه کې یو جملې ته په اشارې وویل: ( د کلي خلکو به ورته سپیره ویله او ماشومانو به ورته پیریانې ویله) که دا جمله داسې شي چې ( خلکو به ورته سپیره ویله او ماشومانو به ورته پیریانۍ ویله) نو ښه به راشي.
ډاکتر پرهر په ټوله کې لیکنه خوښه کړه زیاته یې کړه عابد لاځوان دی او دې لیکنې ته په کتو ورته ډېرې هیلې شته دی.







استاد شیرحسن کمالزي هم د املایي او لیکنیو تیروتنو په سمونه ډېر تینګار کولو او غوښتنه یې وکړه، چې په بهیر کې دې ځینې استادان او اد ادبیاتو فارعین په دې برخه کې تدریس ورکړي ترڅو ځوانان لیک نښې او او د پښتو ژبې پینځه یاګانې وپیژني. بهیروالو هم په دې برخه کې د کمالزي ملاتړله .
او د اتل په ګډون ځینوهغو کسانو چې په دې برخه کې پوهه درلودله ژمنه وکړه چې څو اونۍ به دوی بهیروالو ته په دې برخه کې ادبي درس ورکوي.








عبدالله سهار هم ټینګار کولو، چې په بهیر کې باید نوي ځوانان ډېر څه یاد کړي او ښوونیزه برخه یې نوره هم پیاوړې شي.
د کرکتني په پای کې خپله د لیکني لیکوال صاحب الله عابد دریځ ته وبلل شو.
نوموړي د ټولو ملګرو مننه وکړه، چې سمي او رغنده مشورې یې ورته ورکړې زیاته یې کړه، چې په راتلونکې کې به د دې مشورو نه ګټه پورته کوي.
د دود سره سم د غونډې دریمه برخه ازادې مشاعرې ته ځانګړې شوې وه، چې دا اوونی په کې تر ډېره ترټمونو ته وخت ورکړل شوی و.
د مشاعرې په اوږدو کې د ختیځې سیمې یوشمېر نوموتو ترنم کونکو په ګډو او ځانته اوازونو کې ترنمونه وکړل چې ګډونوالو په چکچکو بدرګه کړل.
انجینر راحت ګل زیارمل د خپل شعر د ویلو پرمهال د خپل تحلص د (زیارمل) پرځای د (سوکال) د بدلولو اعلان هم وکړ.




په مشاعره کې په یادو کسانو سربیره دغو ښاغلو خپل شعرونه وویل:
شکرالله قلندري، خیبر احمد روښان، نقیب احمد اتل، ډاکتر بشیر احمد روښان، اجمد بختیار ساحل، محمود خزان، قاري عبدالله سهار، یوسف ظریفي، شفیق الله نایل، احسان الله افکار، دیدار صافي، صاحب الله عابد، ایمل مرِوند، اجمد جمال جمال، ضیاالدین همت مل، وفامحمد ناصري، بازمحمد عابد، انعام الحق احسان، اکمل ظاهر، الفت پاڅون، حضرت الله لمرین، بصیر احمد تلاش، نهضت شیرزاد،

حصرت یوسف یوسفزی، استاد شېرحسن کمالزی، اکرام الله اکرام، فرهاد اختر، امین الله ملاخیل، علام اسحاق جبارخیل، فرید الله ملاتړ، او ذبیح الله حالص په پای کې د غونډې مشر عبدالله سهار د ناستې د ارزونې لپاره دریځ ته پورته شو.وې ویل :

ډېر خوښ دی چې نن په دومره ګڼ شمیر کې ملګري او نوي ځوانان په داسې یوه خوندوره ادبي ناسته کې ګوري هیله یې څرګنده کړه، چې د داډول ناستو په شتون کې به د ادب لمن تل سمسوره او تانده وي.

سهار بیا هم په بهیر کې په ادبي درسونو او د ځوانانو د استعدانو د غوړولو لپاره پر کار کولو ټینګار وکړ غونډه غرمه ناوخته پای ته ورسیدله .

ایمل « مړوند »

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی